# <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

## د واکمنانو د بې پروايۍ له امله، سېلابونو میلیونونه کسان زیانمن کړل.

## اې د قدرت څښتنانو! له دې بې رحمه او ظالمو واکمنانو څخه لاس واخلئ او پر ځای یې بیا خلافت تاسیس کړئ

د پاکستان یو پر درېیمه برخه ځمکه سېلابونو لاندې کړه. تر ۱۵۰۰ ډېرو کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړ. یو میلیون کورونه ړنګ شول. دغو سېلابونو ۳۵ میلیونه خلک، چې ۱۶ میلیونه یې ماشومان وو، زیانمن کړل. خو د پاکستان د ډیموکراټیکې رهبرۍ لپاره مرګ او ویجاړې یوازې د عکس اخیستلو یو فرصت و؛ ځانونه یې لانده کړل او خلکو ته یې یو څه خوراکي توکي ووېشل. د بې ځایه شویو او بې وزلو کسانو د هوایي سروې په کولو یې له خلکو سره خواخوږي وښوده او داسې یې وګڼله چې ګواکې خپل مسوولیت یې ادا کړ.

سیاسي رهبري د دې پرځای چې له سېلاب ځپلو سره پوره مرسته وکړي؛ د پوځ د نوي مشر پر انتصاب او ټاکنیزو لوبو بوخته ده او پوځي رهبري یې هم د راتلونکي مشر پر سر په مبارزه لګیا ده. لومړی وزیر شهباز شریف د ملکې الیزابت د جنازې د مراسمو لپاره لندن ته لاړ؛ فکر کوي چې که دی نه وي، جنازه نه کېږي. په همدې توګه، PTI مخالف ګوند په لاریونونو، تبلیغاتي غونډو، پر ټولنیزو رسنیو په کمپاینونو او د دروازو تر شا پر پټو ناستو بوخت دی. د پنجاب او خیبر پښتونخوا ایالتي دولتونه په خپلو سیاسي او شخصي ګټو پسې دي. دا ټول په داسې حال کې ده چې سېلاب ځپلي تر شنه اسمان لاندې د خوړو او لومړنیو اړتیاوو لپاره ژاړي او چغې وهي. دوی له ککړو اوبو څخه د پیدا شویو ساري ناروغیو؛ لکه کولرا، ډینګی او ملاریا پر وړاندې د مبارزې وس نه لري.

د اټکل له مخې، د سېلابونو له امله د اوښتو زیانونه کچه تر دېرش ملیاردو ډالرو زیاته ده. ولاړ فصلونه له منځه ولاړل. په میلیونونو څاروي د سېلاب له امله زیانمن شوي. په داسې سخت حالت کې باید ټوله دولتي دستګاه، واکمنان، بیروکراسي، پوځ، پولیس، مدني مدافعین، وزیران، د خلکو استازي، دولتي او روغتیايي کارکوونکي او ... بسیج شي؛ خو دلته داسې څه نه دي تر سترګو شوي. حکومت یې د غلې دانې ذخیره خلاصه نه کړه. د دغې ذخیرې خوله د خلکو لپاره نه، بلکې یوازې د سود د ورکړې لپاره خلاصیږي. دلته د حکامو لومړیتوب له خپلو خلکو سره په درد کې شریکېدل نه، بلکې د استعمارګرې بریتانیې د ملکې په مړینه ماتم کول دي.

راشده خلافت ښودلې چې څنګه د قحطۍ او سېلابونو په شان افتونو سره مقابله وکړي. کله چې په ۱۸مه هجري پېړۍ کې په حجاز کې قحطي راغله، ټوله دولتي دستګاه د ناورين د کمولو لپاره بسيج شوه او ټوله رهبري په بشپړه توګه د مرستې رسولو په برخه کې بوخته وه. له مصر او شام ولايتونو څخه د خوراکي توکو او جامو په ګډون پام وړ مرستې وليږل شوي. خليفه عمر رضی الله تعالی عنه پخپله په مرسته رسولو کې بوخت و. دا د طبيعي ناورين په ځواب کې د خلافت د پام وړ او د امت پراخ غبرګون و چې له ډيموکراسۍ سره بشپړ توپير لري. شهباز شريف د نړۍ د تودوخې په اړه څېړنې بيانوي چې په دې پلمه خيرات راټول کړي.

د دغو سېلابونو پر مهال دومره غفلت دا په ډاګه کړه چې اوس د سيکولر ډيموکراسۍ د ښخولو وخت دی. له همدې واکمنانو يوه يې هم تر سېلابونو وړاندې د مسووليت احساس نه درلود، نو اوس او په راتلونکي کې به يې څه ولري؟ اوس هغه وخت را رسېدلی چې دوی نسکور شي، لرې شي او بېرته خلافت تاسيس شي.

**اې د پاکستان د وسله والو ځواکونو افسرانو!** د بسيج کېدو لپاره نور کوم دليل غواړئ؟ په سند او بلوچستان کې د دولتي دستګاه غفلت ښکاره دی. واکمن ګوند او اپوزيسيون د پنجاب صوبې پر سر د واک په جنجال کې ښکېل دي، په داسې حال کې چې د سند او بلوچستان رايې په دغه جنجال کې نه شمېرل کېږي. د مليونونو خلکو ژوند او راتلونکی ستاسو په پرېکړه، دريځ او عمل پورې تړلی دی. همدا اوس د خلافت د بيا تاسيس لپاره نصرت ورکړئ او خپل ولس له دغه ظالم نظام او بې پروا حکامو خلاص کړئ. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا أَنْصَارَ اللَّه...)**

ژباړه: *«اې مومنانو! د الله تعالی انصار شئ...»* [صف: ۱۴]

**د حزب التحرير- ولايه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۴ هـ.ق کال، د صفر ۲۵مه**

**۲۰۲۲م کال، د سپټمبر ۲۱مه**

**د صدور ګڼه: ۰۸/ ۱۴۴۴**

**د سوشیل میډیا لپاره متن:**

لومړی وزیر شهباز شریف د ملکې الیزابت د جنازې د مراسمو لپاره لندن ته لاړ؛ فکر کوي چې که دی نه وي، جنازه نه کېږي. په همدې توګه، PTI مخالف ګوند په لاریونونو، تبلیغاتي غونډو، پر ټولنیزو رسنیو په کمپاینونو او د دروازو تر شا پر پټو ناستو بوخت دی. د پنجاب او خیبر پښتونخوا ایالتي دولتونه په خپلو سیاسي او شخصي ګټو پسې دي. دا ټول په داسې حال کې ده چې سېلاب ځپلي تر شنه اسمان لاندې د خوړو او لومړنیو اړتیاوو لپاره ژاړي او چغې وهي.

د بشپړ مطلب د لوستلو لپاره لاندې لینک کېکاږئ:

**پیغامونه:**

د دغو سېلابونو پر مهال دومره غفلت دا په ډاګه کړه چې اوس د سیکولر ډیموکراسۍ د ښخولو وخت دی. له همدې واکمنانو یوه یې هم تر سېلابونو وړاندې د مسوولیت احساس نه درلود، نو اوس او په راتلونکي کې به یې څه ولري؟ اوس هغه وخت را رسېدلی چې دوی نسکور شي، لرې شي او بېرته خلافت تاسیس شي.

راشده خلافت ښودلې چې څنګه د قحطۍ او سېلابونو په شان افتونو سره مقابله وکړي. کله چې په ۱۸مه هجري پېړۍ کې په حجاز کې قحطي راغله، ټوله دولتي دستګاه د ناورین د کمولو لپاره بسیج شوه او ټوله رهبري په بشپړه توګه د مرستې رسولو په برخه کې بوخته وه.